لنډیز

مهمی لاسته راوړنی

* د هیواد وضعی ته د خلکو خوشبینی ادامه لری ځکه چه (٪۴۲) خلک په دی نظر دی چی په هیواد کی چاری په سم لوری روانی دی. په داسی حال کی چی (٪۲۴) خلک دا فکر کوی چی هیواد په نا سم لوری روان دی او (٪۲۵) خلک په دی اړه بیلا بیل نظرونه لری. په ۲۰۰۶ کال کی، (٪۴۴) خلکو داسی ویل چی په هیواد کی هر څه په سم لور روان دی، (٪۲۱) خلک په دی نظر وو چی دغه کارونه په سم لوری پرمخ نه ځی، او (٪۲۹) نورو خلکو په دی اړوند ډول ډول نظریات درلودل.

* د هیواد (٪۳۹) خلک بیارغونه د هیواد سم لوری ته د خوځښت یو له لویو لاملونو بولی، او ورپسی امنیت (٪۳۴). هغه کسان چه فکر کوی چی هیواد په یوه ناسم لوری روان دی نا امنی (٪۴۸) او ورپسی د ضعیف اقتصاد او ناسا لمی اداری مختلف اړخونه ددی لاملونه بولی. په ۲۰۰٦ کال کی، امنیت د هیواد سم لوری ته د تګ مهم او تر ټولو لوی لامل بلل شوی وو (٪۳۱)، ورپسی سوله (٪۲۹) او خلع سلاح (٪۲۶) راغلی وو.

* په افغانستان کی تر ټولو لویی ستونزی بد امنی، بیکاری، کمزوری اقتصاد، اداری فساد په ترتیب سره په ګوته شوی چه (٪۳۲) خلکو بد امنی تر ټولو لویه ستونزه بللی. په ۲۰۰٦ کال کی، د هیواد په کچه لویی ستونزی کمزوری اقتصاد، بی باوره امنیت، د بیا رغونی کنډ حالت او بیکاری بلل شوی وو.

* د سیمی په کچه پیژندل شوی لویی ستونزی په تربیب سره د بریښنا، بیکاری، اوبه او زده کړی بلل شوی چی هر یو ددی ستونزو نه د ۱۰ - ۱۵فیصده خلکو ځواب ورکړی. په ۲۰۰٦ کال کی، د سیمی په کچه پیژندل شوی لویی ستونزی د بیکاری (٪۳۴)، بریښنا (٪۲۵)، اوبه (٪۱۸) او بیوزلی (٪۱۸)، چی ورپسی کمزوری اقتصاد (٪۱۷) او اداری فساد (٪۸) بلل شوی.

* نه اویا فیصده خلک دا احساسوی چی دولت د خلکو نظریو ته پاملرنه نه کوی، که څه هم (٪۶۹) نورو خلک په دی باور دی چی د خلکو په منځ کی د دولت په اړه منفی غږیدل ورته د قبلیدو وړ نه دی.

* د خلکو (٪۸۰) ددی احساس درلودونکی دی چی دولت ښه کارونه تر سره کړی دی، د دغو ښو کارونو د دی ویاړ یوه زیاته برخه د زده کړی او روغتیایی سکتورونو ته ځی، که څه هم دولت د کاریابی، د اقتصاد د بیارغونی او د فساد پر ضد د مبارزی په اړه کم کارونه ترسره کړی دی.

* د مختلفو اداراتو په اړوند د خلکو درک په پراخه توګه توپیر لری. دافغانستان د ملی پولیسو او ملی اردو باندی د اتیا فیصدو نه زیات خلک په لوړه کچه او یا تر یوه حده پوری باوری دی. ورپسی د الکترونیکی رسنیو، شوراګانی او جرګی، ولایتی شوراګانی، نړیوالی او غیر دولتی

موسسی او د سیمه ایزو انکشافی شوراګانو څخه هم یادونه شوی ده. مګر د نیمایی نه لږ ځواب ورکونکی د دولت په عدلی او قضایی سیستم، سیاسی احزاب او ځایی ملیشو باندی باوری دی.

* د تیرو دوه کلونو په ترڅ کی صرف ۱٤ فیصده خلک توانیدلی دی ترڅو خپلی شخړی دولتی محکموته یا هم سیمه ایزو جرګو او شوراګانو ته د حل لپاره وسپاری. چه له دغو شخړو څخه تر نیمایی ډیری د ځمکو پر سر وی.

* په ملی سطحه د خلکو تصور د اداری فساد په هکله (۷۴٪) تر ولایاتو(۶۰٪) او سیمو (۴۸٪) نه لوړ دی.

* شپږ شپیته فیصده خلک دا احساس کوی چی ددوی په سیمو کی امنیت ښه او یا هم څه ښه دی، (۵۰٪) وایی چی هغوی د خپلو کورنیو د خوندیتوب په اړوند ډیر لږ او یا هم هیڅ اندیښنه نه لری، او همداراز د (۸۲٪) خلک وایی چی د تیرو دوو کلونو په ترڅ کی د هغوی د کورنیو هیڅ یو غړی د جرمونو، د تشدد او یا هم د نورو تیریو نه دی قربانی شوی.

* اتیا په سلوکی خلک په دی باور دی چی د تریاکو کښت ناسم دی، (۵۰٪) خلک د مذهبی دلایلو په وړاندی کولو سره فکر کوی چه د کوکنارو کښت ناسم دی په داسی حال کی چی (۳۵٪) خلک د کوکنارو کښت د خلکو د روږدیتوب په خاطر ناسم بولی. لس فیصده او یا هم څه کم خلک د نشه یی توکیو، تروریزم او ناامنیو ترمنځ د اړیکو یادونه کړی.

* د افغانستان نژدی نیمایی خلک (۴۹٪) داسی نظر لری چی د هغوی خپل او د کورنیو ژوند د طالبانو له ریژیم په نسبت نن ډیر نیکمرغه او خوشحاله دی. که څه هم (۲۸٪) خلک داسی نظر لری چی هغوی د اوس پر پرتله د طالبانو په رژیم کی نیکمرغه ژوند درلود. په ۲۰۰۶ کال کی، (۵۴٪) خلک د طالبانو د رژیم په نسبت خوشحاله ژوند درلود که څه هم (۲۶٪) خلک دا احساس کولو چی د هغوی ژوند خوشحاله نه وو، او (۱۲٪) خلک په دی عقیده دی چی د هغوی د ژوند په کچه هیڅ ډول توپیر نه دی راغلی.

* د تیرو دوو کلونو په پرتله، (۵۱٪) خلک وایی چی مکتبونو ته په لاسرسی کی پرمختګ شوی، د (۴۳٪) کورنیو په صحی وضعه کی ښه والی راغلی او (۳۹٪) کورنیو په اقتصادی وضعه کی ښه والی راغلی.

* په افغانستان کی زیاتو خلکو ته (۵۱٪) دیموکراسی د آزادی په معنی ده، او په همدی ترتیب سره سوله (۳۱٪). یو ډیر شمیر خلکو ته (۲۶٪) د یموکراسی د حقوق او قانون او په همدی ترتیب سره د خلکو حکومت (۲۵٪) معنی ورکوی.

* د افغانستان (۳۴٪) خلک په دی باور دی چی سوله یو له هغو مهمو شیانو څخه دی چی پخپله دوی ته د دیموکراسی له لاری ور په برخه کیږی. ځینی نور خلک په دی باور دی چی دیموکراسی ورته آزادی (۳۰٪)، حقوق او قانون (۲۳٪) او د خلکو حکومت (۲۲٪) په برخه کوی.

* د خلکو ډیر شمیر په دی نظر دی چی دیموکراسی د اسلام سره په مخالفت کی نه ده. شپږشپیته فیصده خلک په دی باور دی چی دیموکراسی کیدای شی اسلامی وی، په داسی حال کی چی (۲۹٪) خلک په دی نظر دی چی دیموکراسی د اسلام ارزښتونه چلینج کوی.

* شپیته په سلوکی افغانان په دی نظر دی چی باید د مذهبی رهبرانو او مشرانو سره مشوره وشی، (۳۶٪) خلک په دی نظر دی چی سیاست او مذهب باید سره گډ نه شی.

* په افغانستان کی (۷۳٪) خلک د دیموکراسی د پلی کیدو په تگلاره باندی باوری دی.

* نه ویشت فیصده خلک د زدکړو کموالی یوه له سترو ستونزو بولی چی افغانی ښځی ورسره مخامخ دی، (۱۳٪) نور خلک د ښځو د حقوقو کموالی ستره ستونزه گڼی چی ور پسی (۹٪) خلک د ښځو لپاره د کاری زمینو کموالی یوه ستونزه گڼی.

* په مختلفو سیاسی ادارو کی د ښځو په لوړو او رهبری پستونو کی د نیولو سره د خلکو مخالفت د (۳۹٪) او (۴۴٪) په حدودو کی دی. دغه مخالفت په ملی پارلمان کی د ښځو د تقررپه هکله ډیر لوړ(۴۴٪) او د ولسوالیو په انکشافی شوراگانو کی ډیر کم (۳۹٪) ښودل شوی.

* د افغانستان تر نیمایی لږ څه ډیرو خلکو (۵۴٪) ته راډیو په ملک کی د مهمو پیښوپه هکله د معلوماتو د تر لاسه کولو تر ټولو مهمه او اصلی سر چینه ده. ورپسی تلویزیون د (۲۶٪) خلکو لپاره او ملگری، کورنی او گاونډیان د (۱۴٪) خلکو لپاره د معلوماتو سرچینی دی.